# دخېرالبیان چاپي متون: یوه تنقیدي مطالعه
# (د متن څېړنې، د اصولو په رڼا کښې)

# A Critical Study of Printed Texts of Khair-Ul- Bayan

(In the light of established principles of textual criticism)

**Dr. Abdullah Jan Abid** *

## ABSTRACT:

Bayazid Ansari's Khair-ul-Bayan, written in Arabic, Hindi/Urdu, Farsi and Pashto, is considered to be the first ever book length work in Pashto. University of Tubingen in Germany has its original manuscript. An imprint of this valuable work was published in Kabul while two of its edited versions were published in Pakistan. One of these edited versions was published by Pashto Academy, University of Peshawar and the other was edited by Qalandar Momand. In this article, employing the principles of textual criticism, I studied both these edited versions and compared them with the imprint brought out by the Kabul University. My study shows that, with an excellent Italic and editing quality, the version published by the Pashto Academy is better than the one edited by Qalandar Momand. While the latter carries many alternations, the former too has some parts missing in it which may easily be fixed with little editing.

Key words: Khair-ul-Bayan, Tubingen, textual criticism, Kabul.

* Associate Professor, AIOU, Islamabad

پخواني متون، د متن څېړنې د اصولو او روشونو په رڼا کښې تهيه کولې شي. دغه اصول او روشونه ددغه فن استاذانو په خپلو کتابونو کښې درج کړي دي. په دغه کښې د يو متن د بازيافت دپاره چې کوم تاکيد بيا بيا شوے دے، هغه دا دے چې متن دې د مصنف د منشا مطابق بازيافت کړے شي او که دغه صورت ممکنه نۀ وي نو بيا دې هڅه اوکړے شي چې دغه بازيافت شوے متن دې د امکان تر حده د مصنف منشا ته قريب وي. د متن څېړنې د فن په کتابونو کښې په مدونه متونو کښې د انحرافاتو (د نورو په پرته) دوه صورته په ګوته کړے شوے دي. يو ارادي او شعوري او بل غېر ارادي او غېر شعوري. دغو دواړو صورتونو دپاره چې کوم بېل بېل اصطلاحات وضع کړے شوے دي هغه دا دي: ارادي او شعوري انحرافاتو دپاره "تحريفات" او غېر ارادي او غېر شعوري دپاره "تسامحات". دغسې د يو متن د مقدمې دپاره هم څۀ لازمي شرطونه ټاکلي شوي دي چې يو په کښې د متن په بابت د درست معلوماتو اندراج دے.

په دې مقاله کښې به ددغو پاسنيو بيان شوؤ اصولو په رڼا کښې د خېرالبيان درې چاپي متون سنجولے شي. تفصيل ئې وګورئ:

د بايزيد انصاري خېرالبيان په لومړي ځل د حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي په تدوين په ۱۹۲۷ ء کښې پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ چاپ کړے او خپور کړے دے، چې متن ئې د هغه واحدې نسخې د مائکروفلم له مخې ترتيب کړے شوے دے، کومه چې د جرمني د ټيوبنګن يونيورسټۍ(۱) د کتاب خانې ملکيت دے.

دغه متن په۱۹۸۸ء کښې په دوېم ځل هم مذکوره ادارې نشر کړے دے خو په ۱۳۵۳ هـ ش /۱۹۷۴ ء کښې په کابل کښې د خېرالبيان عکسي چاپ هم رامېنځ ته شوے دے - دغه چاپ د خطي نسخې د هغه نقل د عکس له مخې تهيه کړے شوے دے، کوم چې محترم عبدالرؤف بېنوا د ټيوبنګن يونيورسټۍ (جرمني) څخه راغوښتے ؤ (۲)-

د "خېرالبيان تنقيدي مطالعه" چې مدون ورته اخذ شوے دريم قرأت وئيلے دے، په ۱۹۸۸ ء کښې "د چاپ ځائې" پېښور چاپ کړے دے-(۳)

د خېرالبيان د لومړي چاپ په پېژندګلو کښې مولانا عبدالقادر د هغه سفر روداد په تفصيل سره بيان کړے دے، د کوم په نتيجه کښې چې د خېرالبيان خطي نسخه تر لاسه شوه- په دې متن د حافظ عبدالقدوس قاسمي مفصله مقدمه خپل يومنفرد علمي، تاريخي او ادبي حېثيت لري، چې په کښې د پير روښان، روښاني تحريک او خېرالبيان په باب مستند او مدلل مباحث شوي دي- له مقدمې وروستو د متن په هر مخ د حاشيو منظم اهتمام ليدے شي، چې په کښې د متن د وضاحت طلب ځايونو وضاحتونه ورکړے شوي دي او د ګرانو لفظونومعني او مفاهيم هم- په دغو کښې څۀ حاشيې د تخريج امورو ته وقف دي، چې د قرآني ايتونو، حديثونو او نور بهرنو شيانو تخريج په کښې شوے دے-

د خېرالبيان بل ايډيشن عکسي دے چې د متن څېړنې په دنيا کښې ئې خپل اهميت دے- د عکسي چاپ فائده دا وي چې د يو متن د نسخې ټول مندرجات سره د املائي خصوصياتو او ځانګړو مخې ته راشي او تر ډېره حده د خطي نسخې متني معارض او مواقف په کښې څرګند شي- د خېرالبيان دا عکسي ايډيشن نۀ يواځې د خطي نسخې د عکس له سوبه د اهميت ؤړدے، بلکه په دې کښې د محترمو عبدالحي حبيبي، عبدالرؤف بېنوا او عبدالشکور رشاد هغه درنې علمي مقالې هم راغلي دي، چې د بايزيد روښان، روښاني تحريک او په خاص توګه د خېرالبيان په باب په کښې وسيع او وقيع مطالعات وړاندې شوي دي - پرته له دغو درنو علمي مقالو دې متن له پاره چې محترم عبدالشکور رشاد کومه لغت نامه ترتيب کړې ده، هغه د خپل مېتود او طريقۀ کار له مخې ځانګړې ده- د دغې مېتود او طريقه کار وضاحت محترم عبدالشکور رشاد داسې کړے دے:

"په دغو مجموعه کې (۱۷۷) لغتونه په دې ډول څېړل سوي دي: ۱- د لغتو رَوَنْ د الفبې له تورو سره سم دي- ۲. لغتونه لومړی زمونږ په پښتو لیک دود کښلي دي او د حرکاتو سکنا تونخښې هم لري-۳- وروسته د لغت لاتیني لیکنه راغلې ده اود فشار هجا په (/) سره نخښه ده-
۴. تر لاتیني لیکنې وروسته په لیندیو کې ځینې مخففات کښلي دي- دغه مخففات د هغه لغت گرامري خصوصیتونه ښیي-۵-هغه لغت چي څو معناوي لري، زیار ایستل سوی دی چې ټولې معناوي ئې تر لغت لاندې وکښلي سي-۶- په خېر البیان کې چي هغه لغت په کومو ځایو کې راغلی دی، له هغو ځخه یو مثال را اخیست سوی دی، که په یوه مثال معنٰی ښۀ نۀ وي ځرگنده سوې یا د لغت معناوي تر یوې زیاتي وي، هلته نور مثالونه تر یوه زیات راوړل سوي دي، له مثاله سره د خېر البیان د اصلي نسخې مخونه هم په لیندیو کې سته-۷.وروسته د لغت هغه معنٰی چې په چاپي نسخه کې حاشیه لیکونکي کښلې وي، راوړله کیږي- ۸- په خېر البیان کی چي د لغت کومه معنٰی مراد وي له نورو پښتو کتابو ځخه د هغي معنی د سند له پاره یو یا څو مثاله راوړل کیږي-۹- که په نورو ژبو کې د هغه لغت رواج وي، په ډېر لنډیز سره څېړل کیږي " (۴)-

د خېر البیان د لغاتو د حل له پاره دغه بیان شوے مېتود کښې د وئي ښوؤنے مهم اصول مراعات شوي دي، ځکه نو اهمیت ئې د پښتو د نورو مدونه متونو په روایتي مرتبه فرهنگونو سېوا دے-

"د خېرالبیان تنقیدي مطالعه "د مدون د وېنا ترمخه: له دغو دواړو نسخو (مدونه او عکسي) نه اخذ شوے یو درېم قرأت دے، چې هغوي ورته

اصل خېر البيان (۵) وائي اود خپلې دغې دعوې د اثبات له پاره ئې په مقدمه کښې ګڼ دلائل راوړي دي- خود ډاکټر زېبر حسرت د وېنا تر مخه:

> "د دې کتاب د وقعت او حېثيت حقيقي اندازه به هغه وخت لګېدل ممکن وي، چې د خېر البيان نورې نسخې پېدا شي او دې ضمن کښې د نورو محققينو د کارونو سره ئې موازنه او مقابله اوکړے شي، چې قلندر مومند د خپل مؤقف، دلائلو او دعوې په سلسله کښې د تحقيق او تنقيد ځومره حق ادا کړے دے او دغه اهم دستاوېزي کار او زيار ئې کومه درجه لري "(۲)-

زلمے هېواد مل صېب د خېرالبيان دويمه نسخه هم دريافت کړې ده چې کوائف ئې په ۱۹۸۴ء کښې د هغوئي په مطبوعه کتاب "د هند د کتاب خانو پښتو قلمي نسخې" کښې مفصل راغلي دي- دغه نسخه مکمله ده او تر پايې په څلورو ژبو کښې (عربي، فارسي، پښتو او هندي) ليکلې شوې ده او بل ددغه کار او زيار په باب پښتو محققينو وخت په وخت خپلې درنې څېړنې او ليکنې رامېنځ ته کړې دي، چې ضروري مواردو کښې به ترينه وړاندې استفاده کولے شي-

اوس به په لاندې کرښو کښې د خېر البيان د لوړو ذکر شوؤ چاپي متنونو ځينې تدويني کموتونه او تسامحات او انحرافات اوښايو، کوم چې د متن څېړنې د روشونو سره اړخ نۀ لګوي:

- د خېر البيان د دواړو تدوين شوؤ متونو (د عبدالقدوس قاسمي او قلندر مومند مدونه) د عکسي چاپ سره پرتليزه مطالعه دا حقيقت رانمائي، چې د دغو په ځينو برخو کښې د اصل نه انحراف شوے دے- د انحراف دغه صورتونه په مختلفو برخو کښې مختلف دي- مثالونه ئې ملاحظه کړئ:

۱- "او بايزيد ! د ترسګارانو نخښنه هغه ده چه هر چار به کا ځما د محبت په بهانه، ځما په ورمندنه ځما د طلب او پيژندګلئ دپاره به ښۀ چار کا په اندام".

د خېر البيان د وړومبي چاپي متن د ۱۷۳ مخ عبارت دے، چې د عکسي چاپ مطابق نامکمل دے او بشپړ صورت ئې په عکسي چاپ کښې داسې دے:

۲- "او بايزيد! دتر سګارانو نخښه هغه ده، چې لرې به اوسي زما د ډار په بهنه (بهانه) له واړو حرامو- د محبتي نخښه هغه ده چې هر چار به کا زما د محبت په بهنه زما په ورمندن(نه) زما د طلب او د پېژندګلې دپاره په ښۀ چار کا په اندام "(۷) يعني د عبارت دا مندرج برخه حذف ده: چې لرې به اوسي زما د ډار په بهنه (بهانه) له واړو حرامو- د محبتي نخښه هغه ده.

۳- "هر چې محبت د بلا د فتنې له زيان کارې سرائې سره کا مبتلا به ئې کړم په سختې، په بلا، په فتنه په اندوه په غم او په تاريکې په ړندوالي تروبه زما له پېژندګلې دروند شي عيان"

پاسنے درج عبارت د "خېر البيان تنقيدي مطالعه" په ۲۰۴ او ۲۰۵ مخونو راغلے دے، چې د عکس مطابق کموت هم لري او تسامح هم- د عکس په ۲۲ ب مخ دغه عبارت داسې مندرج دے: "هر چې محبت د بلا د فتنې لهزيان کارې، له تاريک سرائې سره کا مبتلا به ئې کړم په سختې، په بلا، په فتنه،په اندوه، په غم او په تاريکې ړندوالي ترو به زما له پېژندګلې ړوندشي عيان"

"له تاريک "دغه توري په متن کښې له اندراج څخه پاتې شوي دي، خوکاتب په متن کښې نښه ورکړے او په حاشيه ئې ليکلي دي- په وړومبي چاپي متن کښې عبارت مکمل دے او مدون دغه توري په خپل ځاے راوړي دي، خو محترم قلندر مومند د عکس څنډه نۀ ده لوستې او هر کله چې ئې د وړومبي چاپ متن په متعلقه عبارت کښې "له تاريک" توري ليدلي دي- نو په نوټ نمبر ۱۰۷ کښې ئې داسې ليکلي دي: "چاپي نسخه کښې دا عبارت داسې دے: "هر چې محبت د بلا د فتنې له زيان کار له تاريک سرائې سره کا مبتلا به ئې کړم" (۸)، مطلب دا چې په عبارت کښې "له تاريک" اضافه شوے دے،

خو دراصل دغه عبارت د اصل نسخې مطابق دے او د محترم قلندر مومند ورکړے شوے عبارت نیمګړے دے- بله دا چې محترم قلندر مومند د عبارت د پایې په برخه کښې د "ړوند شي عیان" په ځاے "دروند شي عیان" لیکلے دے، خو"ړوند" تورے د اصل نسخې په عکس کښې بالکل واضح دے او په لومړي نظر لوستلے شي-

۴."ښکاره درله د لوستے په وړومی دوه رکعته فرض نمانځه کښے اولوستن د اللهم په وستري رکعت وتر کښے.............."

د خیر البیان د لومړي چاپ د ۲۵۱ مخ عبارت دے، چې د عکس مطابق نیمګړے دے- د عکس په ۷۵ الف مخ پوره عبارت داسې درج دے: "ښکاره درله د لوستے په وړمي دوه رکعته په ځلور یا په دوه رکعته فرض نمانځه کښې اولوستن د اللهم په وستري رکعت وتر کښې .........". د خیر البیان تنقیدي مطالعه کښې متن مکمل دے، خو په نوټونو کښې ئې د لومړي چاپ د کموت اطلاع نۀ ده ورکړې-

۵-"روا نه دی چه امامتی کا معذوران، چه دیا متیازے روانے وي، چه درو لائے نه شی عیان"

د وړومبي چاپ د ۲۴۹ مخ عبارت دے، چې د عکسي چاپ له مخه نیمګړے دے- په عکسي چاپ (۱۷۴ الف مخ) کښې پوره عبارت داسې دے:"روا نۀ دي چې امامتی کا معذوران چې وینه یاؤ یا متیازې روانې وي چې درولائې نه شي عیان"- البته د خیر البیان تنقیدي مطالعه کښې عبارت د عکس مطابق دے-

۶-"زه قراریم نه غواړم له خپلې حیاتۍ نه له بقائۍ زیاته حیاتی بقائی نه مال ملک نه غواړم د خپلې توانګرۍ به عزیزۍ قرارۍ خوئ راحت - زما هستی بې پروا ده، عیان"

لوړ درج شوے عبارت د خیر البیان تنقیدي مطالعه کښې په ۲۹۱ مخ راغلے دے، چې د عکس مطابق ناتمام دے- دغه عبارت د عکس په ۱۲۲ ب او

۱۲۳ الف مخونو مندرج دے، چې بشپړ شکل ئې داسې دے: " زۀ قرار يم نه غواړم له خپلې حياتى له بقائى زياته حياتي بقائي نه مال ملک، نۀ غواړم له خپلې توانګرى له عزيزى به توانګرى، عزيزى قرارى خوئ راحت، زما هستي بې پرواه ده، عيان "البته په وړمبي چاپي متن کښې دغه عبارت مکمل دے-

د متني انحرافاتو په باب پاسنيو څو مثالونو نه پس اوس د ذکر شوؤ چاپي متونو مقدمې او ورسره د عکسي چاپ ځينې هغه ځايونه د بحث لاندې اونېسو، چې په څۀ نه څۀ حوالو د تأمل وړ دي:

- محترم عبدالقدوس قاسمي د خير البيان په مقدمه کښې " د خير البيان پيغام او د بايزيد مسلک " په مباحثو کښې د "سکونت "د کيفياتو د بيان نه پس ليکلي دي چې:

"د دے اخري مقام په وجه بايزيد ځان ته مسکين وئيل، معنٰی ئے د سکونت ښتن کوله، د رسول کريم دعا ده چه:

اللهم احينى مسكيناً وا متنى مسكينا
اے الله مسکين مے ژوندے لرے
واحشرنى فى زمرة المسٰكين ه
مسکين مے واخلے او د مسکينا نو په
ټولی مے بيا ژوندے کړے-

"بايزيد د دې دعا مطلب دا بيا نولو، چه خدايه د سکونت خاوند مے په دنيا هم لرے او پس د مرګ مے هم په دے مرتبه فائز لرے "(۹)

محترم ډاکټر پروېز مهجور په خپله يوه مقاله"د بايزيد روښان کامل پير "(دغه مقاله د "پښتو "د جولائى اګست ۲۰۰۲ ء ګڼه کښې چاپ ده) کښې د بايزيد روښان په "مسکين "ډېر وقيع علمي بحث کړے دے او د بايزيد روښان په باب د محترم قاسمي هغه رائې، کومه چې د لوړ درج شوي

اقتباس په پایې کښې ورکړې شوې ده، ئې رد کړې ده- هغوي وائي چې په دغه حدیث کښې بایزید د ''مسکین ''په معنیٰ کښې یوه اجتهادي اضافه کړې ده:

''قرآن مجید سره سره ئې د دغه حدیث مبارک په ذریعه خپل مسکین ته یو مذهبي احساس پېدا کړے دے ............ د یو کامل پیر اود نبي د وارث په حېث د بایزید روښان دا دعا صحیح ده ځکه چې یوه ورځ یو صحابي حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چې یا رسول الله زهٔ تاسو سره ډېر محبت کوم خو د مرګ نه پس په جنت کښې به د انبیاء مقام ډېر اوچت وي او زهٔ به چرته د جنت په یوه لاندې درجه کښې یم، ماسره دا غم دے چې زهٔ به تاسو څنګه وینم، نو دې لړ کښې د قرآن شریف د ایت مبارک نازل شو-......(ترجمه: کوم سړي چې د الله او د هغهٔ د رسول اطاعت اوکړو نو دا خلق به د هغو قبول شوؤ بندیګانو سره وي څوک چې الله تعالیٰ په خپلو نعمتونو سره نمانځلي وي یعني نبیان، صدیقان، شهیدان او صالحان، او دا خلق څهٔ ښهٔ ملګري دي) -

په بره ذکر شوي ایت مبارک کښې (صدیقین) په تصوف کښې هغو کاملو اولیاؤ ته وائي چې د باطن په صفایۍ کښې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په شان وي او چاته چې د حق تعالیٰ قرب د نبیانو غوندې حاصل وي، دغه درجه د بایزید روښان د ''مسکین ''کامل پیر او د ''پیر تمام '' هم ده چې د یوې متبادلې تصوفي اصطلاح په توګه ورته'' صدیق ''هم وئیلے شي-

دلته دخیرالبیان په مقدمه کښې حافظ عبدالقدوس قاسمي صاحب هم د بایزید روښان نظر هائي جبک کړے

> دے- .........بایزید روښان هېڅ کله هم دا نۀ دي وئیلي چې"پس له مرګه مې هم په دې مرتبه فائز لرې " بلکې هغه د ډلې او د جماعت خبره کړې ده لکه چې لیکي: اے خدایا زنده دار تو مرا مسکین و بمیرا ن تو مارا مسکین وحشر بکن تو مارا جماته مسکینان " (۱۰)

پرته د لوړ درج شوي اقتباس له نقده، محترم ډاکټر مهجور په خپله دې مقاله کښې په نورو ځایونو کښې هم د خیر البیان د مقدمې ځینې نکات د بحث لاندې نېولي دي، نقد ئې پرې کړے او خپل علمي نظرئې پرې څرګند کړے دے-

پوهاند عبدالشکور رشاد د خیرالبیان په عکسي چاپ کښې د"خیر البیان لغتونه" تر عنوانه لیکلي دي چې:" هغه لهجه د (د خیر البیان لهجه) هغه وختني مسیدو (مسعودو) او وزیرو لهجه ده، په دغه لهجه کښې اوس هم ځینې داسې لغتونه او محاورې سته، چې تر هغې سیمې د باندې پښتنو ته ئې پوهه اسان کار نۀ دے" (۱۱) د پوهاند رشاد دغه خبره چې د خیر البیان لهجه د مسعودو او وزیرو لهجه ده، د حقیقت برعکس ده- خیر البیان د مسعودو او وزیرو لهجه کښې نه بلکه د پښتو معیاري لهجه کښې لیکلے شوے دے- په دې لړ کښې د محترم روزي خان برکي دا لاندې څېړنه د توجه وړ ده:

> زۀ د نوموړې دې خبرې سره اتفاق نۀ لرم او د ښاغلي مارګنستیائن د خبرې تائید کوم چې د خیر البیان پښتو عامه "معیاري" لهجه ده ځکه چې نۀ خو د خیرالبیان لهجه د مسیدو وزیرو ده اونۀ په هغه وخت کښې کوهستان (موجوده وزیرستان) کښې مسعود وزیر وۀ- د دې خبرې تصدیق د خلاصه الانساب، مخزن افغاني، حالنامه او تذکیرالانصارنه هم کیږي- په دې علاقه کښې د برکیانو

سره په پوله کښې لوهانیان (مروت) اباد وو، حالنامه او تذکیر الانصار کښې سره ګوانډ کښې د مروتو او د داوړو ذکر شته خود مسودو وزیرو ذکر نشته- بل خوا په روښاني تحریک کښې تقریباً د ټولو مشهورو قبیلو ذکر شته خو د مسودو وزیرو ذکر په کښې په نظر نۀ راځي- ۔ ۔ ۔ بله خبره دا چې دپښتو ارمړي کښې په دخېلو الفاظ کښې واول vowel هم دغه ډول استعمالیږي څنګه چې په "معیاري"پښتو کښې استعمالیږي یعني د وزیري لهجې په شان "و "په "ي" او "ا "په "و" نۀ بدلیږي مثلاً په ارمړي کښې "الوکان "ته "الوګان " وئیلے شي- د وزیري لهجې په شان ورته "الي ګون "نۀ شي وئیلے- دې نه دا پته لګي چې د ارمړي ژبې تعلق د "معیاري پښتو" سره د مسودو وزیرو د راتلونه پخوا دے-بیا روښان په دې خبره پوهېدو چې د دۀ تحریک د یوې علاقې پورې محدود نۀ وو بلکې د ټولو پښتنو دپاره وو ځکه ئې د خیرالبیان په لیکلو کښې ځان د یوې علاقائي لهجې پورې نۀ وو محدود کړے، بلکې تقریبا د ټولو علاقو د لهجې خیال ئې ساتلے دے- د دۀ پېغام universalوو ځکه یوه لهجه خوځۀ خیرالبیان ئې په څلورو ژبو کښې لیکلے دے" (۱۲)-

- "د خیر البیان تنقیدي مطالعه "کښې چې مقدمه نګار د خیر البیان د متن په باب کوم مباحث رامينځ ته کړي دي، هغه په ډېرو مواردو کښې د حقائقو سره اړخ نۀ لګوي- دغه مباحث په خپل نص کښې بې پناه تېروتنې هم لري او تناقض هم- له دې سوبه استخراج شوې نتیجې ئې هم د ګمراهۍ باعث دي-خو په دې لړ کښې د تسلۍ خبره دا ده چې د پښتو ژبې څو درنو محققینو او لیکوالو په خپلو مستندو

ښېړنو او لیکنو کښې دغه نتیجې په خپلو ښېړنو کښې سنجولې دي۔
اوس چې په دې حواله مونږ خپل بحث وړاندې بوځو نو د دغو ښېړنو
او لیکنو نه به په کښې هم استفاده کوو:

د مقدمې د پېل نه ترلسم مخه پورې چې مقدمه نګار کوم بحث کړے دے، د هغه ټول بحث مرکز او محور دادے چې د پېښور او کابل چاپ نسخې اصل خېر البیان نۀ دے، بلکه د هغه تفسیر دے ځکه چې په اصل خېر البیان کښې د قرآن کریم آیتونه، حدیثونه او د اولیاؤ اقوال نۀ وو- مقدمه نګار په دې لړ کښې دا خون درویزه، خوشحال خان خټک، د دبستانِ مذاهب د مؤلف او ځینو نورو حوالې ورکړې دي او خپل مؤقف ئې پرې تائید کړے دے- خواوس په دې حواله چې کومې ښېړنې شوي دي د هغو مطالعه دا حقیقت رانمائي، چې د مقدمه نګار دغه تحقیق او مؤقف درست نۀ دے- پرته له نورو ډاکټر پرویز مهجور چې په خپله مقاله "دخېر البیان اسلوب" (دغه مقاله دمیاشتنۍ پښتو د مۍ جون ۲۰۰۳ ء په ګڼه کښې چاپ ده) کښې کومې درې حوالې ورکړې دي د هغو نه پس دغه تحقیق په خپل ځاے نۀ پاتې کېږي- محترم مهجور لیکي:

"تر کومه چې په خېر البیان کښې د قرآن د آیتونو، حدیثونو او اقوالو راوړلو حقیقت دے د هغو په حقله هم علي محمد مخلص وائي:

موا قف دے له قرآنه
د حدیث اقوال د کان شۀ

تذکره لیکي چې:"این ملعونان درتصانیف خود منقولات ائمه دینی واخبارات احادیث نبوي وآیات قرآنی زبانی ایراد نموده" (اخون درویزه، تذکرةالابرار والاشرار، مطبع محمدي پشاور ۱۲۸۷ هـ مخ ۲۰۷) "دې ملعونانو پخپلو کتابونو کښې د دیني امامانو منقولات، دنبي حدیثونه او د قرآن آیتونه لیکلي دي"

مخزن لیکي:وآیات رامحض غلط وغیر محل تاویل میکرده و احادیث مفتریات خود تراشیده درا درج کرده "ترجمه: (او آیاتونه ئې غلط لیکلي دي بې ځایه تاویل ئې کړے دے او ځان نه ئې حدیثونه جوړ کړي او درج کړي دي)

خېر البیان پخپله لیکي:"وکښه زما او زما د انبیاؤ اولیاؤ گفتار په دا کتاب، که د دوي وېنا یو شکل وي زما له کلام" (بایزید انصاري، خېر البیان، مخ ۱۴۸)

په دې اقتباس کښې خېر البیان "زما گفتار" نه مراد دقرآن شریف آیتونه، د "انبیاؤ گفتار" نه مراد احادیث او د "اولیاؤ گفتار" نه مراد عربي مقولې اخلي- د مذکوره اقتباس د اخري برخې نه مراد د دغه دریو واړو گفتارونو مېنځه معنوي مطابقت اخلي" (۱۳)

په لوړ درج شوي اقتباس کښې د علي محمد مخلص راغلے شعر د هغه د دیوان په ۸۵ مخ درج دے، کوم چې د ډاکټر پروېز مهجور په تدوین د پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ نه چاپ شوے او خورشوے دے- د نورو حوالو په پرته دغه شعر د خېر البیان په متن کښې کم نه کم د حدیثونو او اقوالو د موجودگۍ تصدیق کوي او په دغه باب معتبره حواله ده- دوېمه دا چې د ورکړي شوي اقتباس د پایې عبارت "د خېر البیان تنقیدي مطالعه "کښې هم په ۹ مخ راغلے دے- پکار وه چې مدون پرې خپله رائې په متن، مقدمه یا نوټونو کښې ښکاره کړے وے، ځکه چې د هغهٔ نه په واضحه توگه په خېر البیان کښې د ایتونو، حدیثونو او اقوالو د موجودگۍ تصدیق کېږي- بله دا چې د تذکرةالابرار والاشرار کوم عبارت (په عبارت کښې د خېر البیان استثنٰی نشته) چې په برني اقتباس(چې دننه په کښې ځلور معتبرې حوالې موجودې دي) کښې راغلے دے، نو د هغې په رڼا کښې به اوس د مدون د دې لاندې بحث او رایې په باب څهٔ وایو:

د اخون درویزه له بیانه دا معلومیږي چې دې کتاب کښې بایزید روښان خپل "ناموزونه" او" ناموافقه" ټکي راغنډ کړي دي. که چېرې په دې کتاب کښې د قران کریم آیتونه، احادیث او د اولیاو اقوال وے نو اخون درویزه به دا خامخا لیکل او په دغه صورت کښې به د اخون درویزه غندې "سخت ګیر" عالم هېچرې هم خېر البیان ته د "شرالبیان" یا "خرالبیان "نوم نۀ وے ورکړے- ځکه چې اخون درویزه په دې هم سړے کافر کوي چې دا ووائي چې "زۀ مومن یم انشاء الله تعالٰی" نو د قرآن کریم آیات او احادیث نبوي لرونکي کتاب ته ئې داسې نسبت څۀ رنګه کولے شو او ځکه دا خبره د اخون درویزه د عقیدې او عمل نه ډېره غېر اغلبه ده چې دومره لویه ګستاخي ترې صادره شي- د دې دلیل په رڼا کښې یو ځل بیا مونږ دا وئیلے شو چې په اصل خېرالبیان کښې د قرآن کریم ایتونه او احادیث نۀ وو او هر کله چې د پېښور او کابل نسخې دا لري نو ځکه دا د هغه خېر البیان نسخې نۀ دي چې اخون درویزه لیدلې وې "(۱۴)

- د خېر البیان د اصلي متن د دلائلو په بهیر کښې یو بل دلیل چې د خوشحال بابا د یو شعر په حواله وړاندې کړے شوے دے، په دې لاندې درج شوي عبارت مبني دے:

"د اخون درویزه نه پس چې کوم لیکونکي خېر البیان غندلے دے هغه خوشحال خان خټک دے. په سوات نامه کښې خوشحال بابا وائی:

د روښان خېر البیان ئې وۀ لیدلے هغه هم مجهول بیان وۀ ناپسندلے

دلته خوشحال بابا د مخزن غندې خېر البیان هم مجهول ګڼی خو د "ناپسندلي" لفظ پرې زیاتوي او له دې هم دا ښکاري چې

کوم خبر البیان د خوشحال بابا له نظره تېر شوے وۀ هغه کښې د قرآن کریم آیتونه او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم احادیث مُبارک نۀ وو، ګني د خوشحال بابا غندې دیني شعور لرونکي شخصیت به هېچرې دا لفظ خبر البیان دپاره نۀ وۀ استعمال کړے" (۱۵)

دغه دلیل ډاکټر زبېر حسرت په خپل کتاب "روښانیان او خوشحال" کښې داسې رد کړے دے:

"خو کوم شعر کښې چې د روښان پیر د نظريې غندنه شوې ده هغه په تاریخِ مرصع، ارمغان خوشحال او د کابل چاپ "سوات نامه" کښې داسې دے چې:

د روښان خبر البیان ئې وۀ لیدلے
هغه هم مجهول بیان وۀ ناپسندلے

او له دې ئې دا نتیجه اخذ کړې ده چې ګنې خوشحال بابا د روښان "خبر البیان" ته مجهول بیان وئیلي دي. حالانکې دغه پورتني بیت کښې لفظ "ئې" د اخون درویزه بابا دپاره استعمال شوے دے او که چېرې خوشحال بابا خپل ځان یادولو نو بیا به ئې د لفظ "ئې" په ځاے "مې" لفظ پکارولو. معنٰی ئې دا ده چې اخون درویزه د روښان خبر البیان لیدلے وۀ او هغه ئې مجهول بیان ناپسندلے وۀ لکه چې د اخوند درویزه بابا د اعتراضاتو نه هم څرګنده ده چې "پیر روښان" په "تاریکي" یادوي او " خبر البیان" ته "شر البیان" یا "خر البیان" وائي او داسې نور، خو د دغه بیت یو قرأت مونږ د همېش خلیل صاحب ترتیب کړې "سوات نامه" کښې داسې لوستے دے او وړاندې مو هم درج کړے دے چې:

د روښان خبر البیان ئې وۀ لیدلے

د هغهٔ په مضمون نهٔ وهٔ پوهېدلے
او د دغه بېت موجودګۍ کښې دا خبره يقيني شي چې د اخوند درويزه په مقابل کښې خوشحال بابا د خېر البيان په مضمون (مندرجاتو) پوهه شوے وهٔ (۱۶)

- د مقدمې په مندرجاتو کښې يو بل دليل چې د پېښور او کابل چاپي متون پرې د اصل په ځاے د خېر البيان تفسير ثابت کړے، داسې راوړے شوے دے:—

"بايزيد روښان د خپل يو بل تصنيف "مقصود المؤمنين" د تاليف وجه دا ښئ ۔
ترجمه: ما ته زما زوي شېخ عمر ووئيل چې که ستا خوښه وي نو د خپلو زامنو او اهل و عيال دپاره د قرآن او د نبيانو له احاديثو او د وليانو له اقوالو څخه نصيحت اوليکه نو ما ئې دا خبره اومنله او اراده مې اوکړه چې د خپل علم او ادراک په مقدار او د خداے پاک په مهربانۍ مدد او توفيق په يو ويشت فصله مشتمل يو کتاب اوليکم او نامه مې ئې "مقصود المؤمنين" کښېښوده"۔

د "مقصود المؤمنين" په حقله دا رايې هېڅا هم نهٔ ده پېش کړې چې دا د "خېر البيان" نه مخکښې ليکلے شوے کتاب دے بلکې د مؤرخينو او ليکونکيو په دې کامل اتفاق دے چې خېر البيان اګاهو او مقصود المؤمنين وريسې ليکلے شوے دے نو که د پېښور او د کابل دا چاپي نسخې په رښتيا هغه خېر البيان دے چې پير روښان ليکلے وو نو بيا خو د مقصود المؤمنين د ليکلو ضرورت نهٔ وو ځکه چې د قرآن کريم په ايتونو په احاديثو او د اولياؤ په اقوالو مشتمل د نصيحت کتاب خو د دغه خېر البيان په شکل کښې له اګاهو

نه موجود وۀ. له دې نه دا صفا ښکاري او د بل دليل ضرورت بالکل ختموي چې د اصل خبر البيان په متن کښې د قرآن کريم اٰيتونه، احاديث او د اولياؤ اقوال نۀ وو. او هر کله چې موجوده چاپي نسخو کښې دا شته نو دا خبر البيان اصل خبر البيان نۀ دے. لکه څنګه چې ددې مضمون په اٰخر کښې د شاملو ضميمو ا ب او ج نه به ښکاره شي د خبر البيان او مقصود المؤمنين تر منځه ډېر اٰيتونه او احاديث مشترک دي دغسې د کومو اولياؤ ذکر چې په مقصود المؤمنين کښې دے هغو کښې د څلورو پينځو اولياؤ مقولې خبر البيان کښې هم شته او د مزې خبره دا ده چې څلور حوالې خو خبرالبيان کښې کټ مټ هم هغه دي چې مقصود المؤمنين کښې هم راغلې دي" (۱۷)

د مقدمه نګار دا دليل، که د پېښور او کابل دا چاپي نسخې په رښتيا هغه خبر البيان وے، چې پير روښان ليکلے ؤ نو بيا خو د مقصود المومنين ليکلو ضرورت نۀ ؤ ځکه چې د قرآن کريم په آيتونو، احاديثو او د اولياو په اقوالو مشتمل د نصحيت کتاب خو د دغه خبر البيان په شکل کښې له اګاهونه موجود ؤ، څۀ رنګه موجوده چاپي نسخې اصلي خبر البيان نه ثابتوي. پکار ده چې مقدمه نګار هغه اصول او ضوابط هم ضبط کړے وے، چې د يو مصنف په يو کتاب کښې چې کومې حوالې يا موضوع راشي. هغه پابند دے، چې هغه حوالې يا موضوع به هغه په خپل بل کتاب کښې نۀ شي راوړلے. د موضوع په ارتباط که پير روښان ځينې هغه آيتونه حديثونه او مقولې، کوم چې په خبر البيان کښې راوړې دي او د اړتياله سوبه په مقصود المومنين کښې هم راغلې دي، نو قباحت ئې څۀ دے او دا څۀ رنګه د دې خبرې دليل ګرځيدے شي، چې د خبر البيان موجوده متن يا چاپي نسخې اصل نه بلکه تفسير دے.

که خبره لږ نوره وړاندې بوځو او د مقدمه نګار دې دلیل ته د یوې بلې زوایې څخه ځیر شو، چې ”د نصیحت په موضوع" خېر البیان د وړاندې نه موجود ؤ نو بیا د مقصودالمومنین لیکلو ضرورت نۀ وۀ او دا چې په و، ب او ج ضمیمو کښې ورکړے شوي د خېر البیان او مقصود المومنین تر مېنځه ډېر آیتونه، او احادیث او ځینې مقولې مشترک دي“. اوس په دې حوالې ګڼې مثالونه داسې وړاندې کېدے شي، چې د یو مصنف د وړومبي کتاب موضوع او حوالې د هغۀ په بل یا ورپسې کتاب یا کتابونو کښې هم راغلې وي. لږې به نۀ ځو او مثالونه به ئې د خوشحال بابا په کتابونو کښې اولټوو.

د خوشحال دیوان او بازنامه (پښتو) د هغه بیل بیل تصانیف دي، خو د مصنف دوه غزلې داسې دي، چې هم په دیوان کښې راغلې دي او هم په بازنامه کښې. په دیوان کښې د راوړلو حواله ئې صنفي ده او په بازنامه کښې ئې موضوعي. د غزلو مطلعې دادي:

په جهان کښې لویه چار د میر شکار ده
که دا چار ګورې هر کار لره پکار ده

د بازونو ښکار د چا دے د زردار
هم زردار هم بې پرواه قلندر وار

اوکه خبره یوائې د موضوع په ارتباط وي لکه څۀ رنګه چې د محترم مقدمه نګار استدلال دے، چې په یوه موضوع (اخلاقي موضوع) کتاب موجود وۀ نو د بل کتاب لیکلو ضرورت نه وۀ . خو که اوس مونږ د خوشحال بابا په موضوعاتو کښې د باز موضوع ته ځیر شو، نو دغه موضوع یوائې هغوي په یو ځاے او یو کتاب کښې نۀ ده راوړې بلکې په ګڼو ځایونو او کتابونو کښې ئې پرې منظومې او منثورې لیکنې کړې دي. د مثال په توګه په دې موضوع د هغوي دوه بشپړې قصیدې د هغوي په دیوان کښې راغلې دي. د ښکار په

موضوع ئې يو مکمل باب په دستار نامه کښې ليکلے دے. دوه بازنامې ئې په کتابي بڼه ليکلې دي، چې يوه په پښتو نظم کښې ده او بله په فارسي نثر کښې.

د باز نامې په پرته که د خوشحال د حبسياتو په موضوع خبره وشي، نو فراق نامه د خوشحال د حبسياتو مجموعه ده، چې د اورنګزيب مغولي بادشاه د قيد په آوان ليکلې شوې ده. د دغې مجموعې ځينې برخې د خوشحال بابا ديوان /کليات کښې هم راغلي دي او دستار نامه کښې هم. دغسې طب نامه د خان بابا بل کتاب دے، چې ځانګړې نسخې ئې موجودې دي، خو دغه کتاب د هغوي په يو بل کتاب فضل نامه کښې هم راغلے دے او دغسې د فضل نامې ځينې برخې او فصلونه د طب نامې په نسخو کښې هم ليدلے کېږي نو که اوس مونږ په دې صورت حال کښې د مقدمه نګار د منشا مطابق اخته شو او د خېر البيان او مقصودالمومنين د و ب ج د ضميمو غونډې د خوشحال د دغو اثارو ضميمې تيارې کړو او نتيجه کښې ئې دا ووايو چې د فلاني کتاب په موجودګۍ کښې ئې د فلاني کتاب د ليکلو ضرورت نۀ وۀ، ولې چې په دغه موضوع ئې فلانے کتاب موجود ؤ، نو دا تحقيق او استدلال به څنګه وي؟

په دې لړ کښې يوه بله معتبره حواله د مخزن او تذکرةالابراروالاشرار ده، چې په دغو دواړو کتابونو کښې اخون درويزه بابا، بايزيد روښان، خېرالبيان او روښاني تحريک ته بدرد وئيلي دي. د مقدمه نګار د منشا مطابق دا هم په يو کتاب کښې پکار وه. خو ولې دلته هغوي چُپ پاتې شوي دي.

اوس به د مقدمې هغې حتمي دعوې ته ځير شو کومه چې د مقدمې د مباحثو په نتيجه کښې مقدمه نګار کړې ده، ليکي چې: او ځکه زه دا دعویٰ کولے شم چې زمونږه دا نسخه هغه نسخه ده، چې د اخون درويزه، خوشحال او د د بستان مذاهب د ليکونکي له نظره تېره شوې وه، تلک عشرة کاملة (۱۸) خو د مقدمه نګار دا دعویٰ د لوړ بحث په رڼا کښې د حقيقتِ احوال برعکس ځکه ده چې د خېر البيان د داخلي شهادت د اخون درويزه، علي محمد مخلص او نورو حوالو نه په واضحه توګه دا ثابته شوه. چې کومه

نسخه په هغه وخت کښې موجوده وه او هغوي ليدلې وه، په هغې کښې د قرآن کريم آيتونه، حديثونه او د اولياؤ کرامو معقولې موجودې وې. هر کله چې اخون درويزه او علي محمد مخلص (علي محمد مخلص د خوشحال د وفات نه شل کاله اګاهو په ۱۰۸۰ هـ کښې وفات شوے دے) هم د دې موجوده خيرالبيان (پېښور او کابل چاپ نسخو) د اصل ګواهي ورکوي نو د هغوي ګواهي معتبره ځکه ده، چې يو د بايزيد روښان غټ مخالف او دوېم ئې کلک مريد دے. پاتې شوه د خوشحال او د دبستان مذاهب د مؤلف خبره، نو يو خو د هغوي په حوالو کښې د دې خير البيان د وجود نفي چرته هم نشته او بله دا چې دوي هم دهغه دور خلق وو په کوم کښې چې اخون درويزه او مخلص ژوندي وو.

اوس چې د خير البيان د چاپي متونو په باب دغه بحث پايې ته رسي، بايد په محاکمه کښې دا اووايو چې د خير البيان په وړومبي چاپ کښې متن په ځينو ځايونو کښې بشپړ نۀ دے رانقل شوے او په مقدمه کښې ئې هم د تأمل وړ نکات موجود دي، چې د ادب عالمانو ورته ګوتې نيولې دي، خو د لوړو بيان شوؤ کموتونو او تسامحاتو تر څنګه په مجموعي حېثيت د خير البيان وړومبے چاپي متن د تدوين د روشونو سره سم چاپ شوے دے. يوه معتبره علمي، ادبي او تاريخي مقدمه پرې ليکلې شوې ده، د متن په تصحيح او ترتيب کښې ئې تر ډېره حده دقت شوے دے او په ډېرو کمو مواردو کښې په کښې بې احتياطي او کموتونه ترسترګو کيږي- متن ئې د حاشيو يو مربوط او مبسوط اهتمام لري- دلته دا اعتراف هم لازم دے که د خير البيان د تدوين کار کوم بل مدون ته حواله کړے شوے وے نو شايد چې دغه متن په داسې علمي او تحقيقي رنګ او انداز نۀ وے مرتب شوے، کوم چې نن زمونږ تر مخې دے- دغسې د کابل د عکسي چاپ نسخې، د متن څېړنې په دنيا کښې خپل اهميت او ضرورت دے. په دغه چاپ د پښتو د لومړي صف د محققانو او نقادانو کومې معتبرې علمي او تحقيقي مقالې او په اخر کښې د پوهاند

رشاد مرتب کړے لغت نامه راغلې ده۔ دغو ټولو ددغه متن په عظمت او وقار کښې اضافه کړې ده- البته " د خیر البیان تنقیدي مطالعه "کښې چې کوم متن ورکړے شوے دے، هغه متن د خطي د نسخې مطابق نۀ دے، ترتیب ئې خود ساخته دے او د متني انحرافاتو یوه داسې نادره نمونه ده چې مثالونه ئې د متن څېړنې په دنیا کښې شاید چرته موجود وي۔

## حوالې


۱- محمد عبد القدوس قاسمي، حافظ، خیر البیان، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، پېښور، ۱۹۲۷ء، ۱ مخ
۲- بایزید روښان، خیر البیان، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځے، کابل، ۱۳۵۳ هـ ش، ب مخ
۳- قلندر مومند، د خیر البیان تنقیدي مطالعه، د چاپ ځاے، پېښور، ۱۹۸۸ء، ۱ مخ
۴- عبدالشکور رشاد، پوهاند، د خیرالبیان لغتونه (مشموله) خیرالبیان، کابل، الف مخ
۵- قلندر مومند، د خیر البیان تنقیدي مطالعه، ۱ مخ
۶- زبیر حسرت، قلندر مومند: یوه تنقیدي مطالعه، د پي ایچ ډي مقاله (ناچاپه)، ۲۷۴ مخ
۷- بایزید روښان، خیر البیان، کابل، ۲۷ ب مخ
۸- قلندر مومند، د خیر البیان تنقیدي مطالعه، ۳۰۳ مخ
۹- محمدعبدالقدوس قاسمي، حافظ، خیر البیان، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، پېښور، دوېم چاپ، ۱۹۸۸ء، ۱۰۸ مخ

۱۰- پروېزمهجور،ډاکټر،دبايزيدروښان کامل پير(مشموله) "پښتو" جولائي، اګست، ۲۰۰۲ء، جلد:۴، شماره: ۷، ۸، ۳۰ -۳۱ مخونه
۱۱- عبد الشکور رشاد، پوهاند، د خېر البيان لغتونه، الف مخ
۱۲- روزي خان برکي، د ميا روښان او خېر البيان باره کښې څۀ غلطۍ او غلط فهمۍ (مشموله) مياشتينۍ "پښتو" پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، پېښور، (اکتوبر، نومبر ۱۹۹۲ء) جلد: ۲۸، شماره: ۱۰-۱۱، ۲-۷ مخونه
۱۳- پروېز مهجور، ډاکټر، د خېر البيان اسلوب (مشموله) "پښتو"، پښتو اکېډيمي، پېښور (مۍ، جون ۲۰۰۳ء)، ۲۱- ۲۲ مخونه
۱۴- قلندر مومند، د خېر البيان تنقيدي مطالعه، هـ- و مخونه
۱۵- همدغه، و- ز مخونه
۱۶- محمد زبير حسرت، روښانيان او خوشحال، د ادبي دوستانو مرکه، مردان ۲۰۰۴ء، ۲۷ مخ
۱۷- قلندر مومند، د خېر البيان تنقيدي مطالعه، ۱-۳ مخونه
۱۸- همدغه، ی مخ